# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارکان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۰۸ ګڼه / سه شنبه ۰۹ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۲۹ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۱۹ مارچ ۲۰۲٤ میلادي


اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:۰٦
سحر: ٤:۳۳

## پر افغانستان د پاکستاني الوتکو د تجاوز په اړه د اسلامي امارت اعلامیه

تېره شپه شاوخوا ۳ بجې پاکستانیو الوتکو د پکتیکا ولایت برمل ولسوالۍ په لمنه سیمه کې او د خوست ولایت سپیرې ولسوالۍ په افغان دوبۍ سیمه کې د عامو وګړو په کورونو بمبار کړی، چې ۶ تنه ۳ ښځینه او ۳ ماشومان شهیدان شوي او یو کور نړېدلی او په خوست ولایت کې یو کور نړېدلی ۲ تنه ښځینه شهیدانې شوې دي.

د عبدالله شاه په نامه کس چې پاکستانی اړخ یې په پېښه کې د په نښه کېدو ادعا کوي هغه په پاکستان کې دی، بله دا چې په یاده سیمه کې په دواړو غاړو کې یو قوم اوسېږي، چې ورځنی تګ راتګ او ګنې خپلوۍ لري. ۵مخ

# د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال د شینوارو د قومي مشرانو ستونزې واورېدې



د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر پرون په سپېدار ماڼۍ کې د ننګرهار ولایت د شینوارو شېړو ولسوالیو قومي مشرانو او مخورو سره وکتل.

یادو قومي مشرانو په دغه کتنه کې وویل چې د اسلامي نظام ملاتړ او ساتنه د ټولو مسوولیت دی او د هر راز همکارۍ ډاډ یې ورکړ.

دوی همدارنګه د اسلامي نظام د ټینګښت لپاره د شینوارو د قربانیو یادونه وکړه او زیاته یې کړه، چې اوس به هم هیچاته د اسلامي نظام پر وړاندې د بغاوت اجازه ور نه کړي.

یادو مشرانو همداراز... ۵مخ

## نشست هیئت مؤظف به خاطر رفع تداخل وظیفوی میان ادارات امارتی برگزار شد

نشست هیئت توظیف شده از سوی عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی به منظور رفع تداخل وظیفوی میان ادارات امارتی برگزار شد.

این هیئت از جانب عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوی هبة الله آخندزاده حفظه الله تعالی به منظور رفع تداخل وظیفوی میان ادارات امارتی، تحت ریاست مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزرا و با اشتراک اعضای این هیئت برگزار شد.

در نشست یادشده در خصوص از میان برداشتن تداخل وظیفوی میان بعضی ازادارات بحث و تبادل نظر صورت گرفت و تصامیم لازم اتخاذ شده است.



## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت سرپرست د تاشکند له دیني مرکزونو څخه لیدنه وکړه



د افغانستان اسلامي امارت د ارشاد، حج او اوقافو وزارت سرپرست شیخ الحدیث سر محقق دوکتور مولوي نور محمد ثاقب او مل پلاوي ازبکستان ته د سفر په ترڅ کې د دغه هېواد د پلازمېنې تاشکند ښار له دیني او اسلامي مرکزونو څخه لیدنه وکړه.

د یاد وزارت له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې ښاغلي ثاقب نن په تاشکند... ۵مخ

## پیام تسلیت معاون سیاسی ریاست الوزراء در پیوند به حادثه اخیر ترافیکی در هلمند



با تأسف فراوان آگاهی یافتم که در اثر یک حادثه ترافیکی در ولسوالی گرشک ولایت هلمند شماری از هموطنان ما شهید و زخمی شده اند.

متأسفانه در حوادث ترافیکی در کشور افزایش بعمل آمده است که در اثر آن شماری از هموطنان ما شهید و زخمی شده اند و علت عمده آن، بی‌احتیاطی راننده‌گان، عدم رعایت قوانین... ص۵

## سرمقاله

# اوس د ټول مسلمان امت هیلې یوازې افغانانو پورې تړلې دي

دا حقیقت له هیچا پټ نه دی چې افغانانو د تېرې یوې پېړۍ په موده کې پر خپل قادر خدای جل جلاله د بشپړ ایمان او پخې عقیدې په برکت د نړۍ دریو لومړۍ درجه ځواکمنو امپراتوریو د تجاوز په مقابل کې بې ساري قرباني ورکړه، د پردیو له اشغاله یې ځان خلاص او خپلواکي یې وګټله- همدا وجه ده چې دنړۍ په ګوټ ګوټ کې د هر با احساسه مؤمن- فرد او جماعت – د امید سترګې د افغانستان د اسلامی امارت پرلور اوښتې دي- موږ ته ښایي له تاریخه لازم درسونه واخلو، مثلاً دهمدې پېړۍ په سرکې د زیاترو مسلمانو ملتونو هیلې امیر امان الله خان پورې ځکه غوټه وې چې هغه مهال اسلامي نړۍ کې ترهر چاړو مبی افغانانو دهمده په قیادت له انګریزي امپراتورۍ خپلواکي واخیسته، چې له بده مرغه دځینو وجوهاتو له کبله بیاهم هغه څه ترلاسه نه شول کوم چې مسلمانانو یې توقع لرله- دویم ځل بیا همدغه افغان ملت د انتهایي سترو قربانیو په بیه د شوروي اشغال دفع کړ او د هغه وخت د مجاهدینو مشرانو په ګرده اسلامی نړۍ کې خورا ښه نوم او شهرت وګاټه او زموږ هېواد بیاد ټولو مؤمنانو لپاره د ډاډګېرنې یو مرکز وګرځېد، چې په خورا افسوس د مشرانو د خپل منځي رقابتونو له امله د افغانانو ګرد سره ګټلي افتخارات سراسر په خوارۍ او ذلت بدل شول- اوس چې د پېړۍ وروستی برخه ده،... ۵مخ

## قرغزستان دافغانستان پر کانونو پانګونې ته چمتووالی ښودلی



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، د قرغزستان د کان کیندنې «ALLATOY» شرکت له رئیس سره وکتل.

د کانونو او پټرولیم وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې په دې کتنه کې د یاد شرکت رئیس ویلي دي: «افغانستان او قرغزستان خورا زیاتې کاني زېرمې لري، زموږ شرکت چمتو دی د پرمختللو تجهیزاتو او تجربو په لرلو سره د کاني زېرمو په ځانګړې توګه د سرو زرو او انتیموني په برخه کې پانګونه وکړي.»

هغه زیاته کړې چې شرکت یې کولی شي د کان ... ۵مخ

## کابل کې یوه چیکډم جوړولو چارې پیل شوې




د اوبو او انرژۍ وزارت د کابل په میربچه کوټ ولسوالۍ کې د څه باندې ۴ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه چکډم جوړولو چارو د پیل کېدو خبر ورکړی دی.

یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د کابل ولایت په میربچه کوټ ولسوالۍ کې د سیاب بالا چکډم د جوړېدو عملي چارې... ۵مخ

## د بغلان ترافیکو مدیریت څه باندې ۱۰۸ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي




د بغلان د ترافیکو مدیریت د روان کال په بهیر کې ۱۰۸ میلیونه ۲۰ زره افغانۍ عواید راټول کړي دي.

د بغلان د ترافیکو مدیر قاري نذیر الله عابدي د باخترآژانس خبریال ته وویل چې دغه عواید لایسنس او جوازسیر له درکه راټول... ۵مخ


د قدر شپه څه وخت ده؟ ۲ مخ

له نشه‌یي توکو سره مبارزه او د نړیوالې اجماع اړتیا ۲ مخ

اهمیت حجاب از نظر اسلام صفحه ٤

# د قـدر شـپه څـه وخـت ده؟

**لیکنه او ترتیب: شکیبا نادري**




د قـدر شـپه یعنـې هغـه فرصـت چـې اللـه ﷻ د خپـل فضیلـت او لورینـې لـه امله د خپلو بندګانـو د ګناهونـو او بښـنې لپـاره ورکـړې دی، تـر څـو دوی پـه دغـې مبارکـې شـپې کـې عبـادت وکـړي او ګناهونـه یـې وبښـل شـي.

مـوږ پـه ننـۍ لیکنـه کـې تاسـو تـه د قـدر د مبارکـې شـپې د ځانګړتیـاوو، فضیلتونـو، وخـت او داسـې نـورو پـه اړه معلومـات درکـوو کـه تاسـو هـم غـواړئ د دغـه بـې سـاري نعمـت څخـه برخمـن شـئ زمـوږ لیکنـه تـر پایـه ولولـئ!

کومه شپه د قدر شپه ده؟

د قـدر د شـپې د معلومولـو په موخـه د تاریخ پـه اوږدو کـې علمـاوو ډېـرې څېړنـې کـړي دي ان تـر دې چـې د پنځـوس علمـاوو او څېړونکـو قولونـه پکـې شـته، د ډېـرو دلایلـو او تجربـو پـه ورانـدي کولـو سـره وایـي: د قدر شـپه د روژې د میاشـتې په لسـو وروسـتیو شـپو کـې ده او پـه ځانګـړې توګـه پـه طاقـو شـپو یعنـې ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷ او ۲۹ مـې شـپو کـې یـوه شـپه ده. پـه طاقـو شـپو کـې یـې هـم پـه ۲۱ او ۲۷ مـه شـپه ډېر ټینګار کـړی دی.

د قدر په شپه باید څه وکړو؟

دغـې شـپې تـه پـه قـران کریـم کـې (خَیـرٌ مـن أَلـفِ شَـهر) ویـل شـوې ده؛

الف. غسل کول

پـه دغـې شـپه لومړی بایـد غسـل وکـړل شـي، ځکه د قـدر په شـپه غسـل کـول مسـتحب دي.

ب. د کورنـۍ غـړي او ملګـري مـو عبـادت تـه وهڅـوئ!

پـه دغـې مبارکـې شـپې بایـد د کورنـۍ ټـول غـړي عبـادت تـه وهڅـول شـي، تـر څـو کـړي ګناهونـه یـې وبښـل شـي.

ج. د شپې رڼول

ښـه ده چـې د دغـه مبارکـه شـپه تـر سـهاره پـه عبادت تېـره کـړئ، ځکـه چـې د قـدر د شـپې عبـادت د زرو میا شتو د عبادت څخه غوره ګڼل شوی دی.

سـرببېره پـر دې پـه دغـې مبارکـې شـپې کـې قـران کریـم هـم نـازل شـوی دی.

ترجمـه: بېشـکه مـوږ دغـه(د قـدر او عـزت کتـاب قـران کریـم) د قـدر پـه شـپه کـې نـازل کـړی دی او تـه څـه پوهېـږې (ای محمـده! صلـی اللـه علیـه وسـلم) چـې دا د قـدر شـپه څـه ده ــ د قـدر شـپه د زرو میاشـتو عبـادت څخـه ډېـره غـوره ده(چـې کـه چیـری څـوک یـې وومومـي او تـر سـهاره پـورې پکـې په عبـادت بانـدی ځان مشـغول وسـاتي) ـ پرښـتې او روح (جبرائیـل علیـه السـلام) پـه هغـې کـې د لـوی څښـتن تعالـی پـه اجـازه هـر حکـم لـه ځـان سـره را اخلـي او را ښـکته کېـږي (خـورا زیاتـې ملائیکـې پکـې ځمکـې تـه را ښـکته کېـږي او لـه ځـان سـره برکـت، رحمـت او مغفـرت راوړي) (دغـه) شـپه د سـهار تـر لمرختلـو پـورې بشـپړه سـلامتي ده.

د قدر شپه د ګناهونو د مغفرت شپه ده

پـه دې اړه د امـام بخـاري او امـام مسـلم (رحمـة اللـه) نـه روایـت شـوي پـه حدیـث شـریف کـې نبي(علیـه السـلام) فرمایـي: ((مَـنْ قَـامَ لَیْلَـةَ الْقَـدرِ إیمانـاً واحْتِسـاباً غُفِـر لَـه مَـا تَقَـدَّم مِـن ذَنبِـهِ)).

ترجمـه: څـوک چـې د لیلـة القـدر شـپه د ایمـان او اجـر غوښـتلو پـه نیـت رڼه(پـه ویښـه بانـدی تېـره کـړي) نـو د هغـه ټـول پخوانـي ګناهونـه بـه وبښـل شـي.

علامةعبدالغنـي النابلسـي(رحمه اللـه) د ګناهونـو د بخښـنې پـه اړه وایـي: (پـه دغـې ګناهونو کـې صغیره او کبیـره ګناهونـو دواړه شـامل دي (او دا بـه ورته ببښـل کېـږي)، ځکـه چـې د مهربـان او لورونکـي اللـه تعالـی ﷻ رحمـت خـو لـه دې څخـه هـم ډېـر پراخـه دی).

د قدر په شپه باید کومه دعا ووایي؟

د امـام ترمـذي او حاکـم فرمایـي: چـې ام المؤمنیـن حضـرت عائشـه (رضـي اللـه عنهـا) وفرمایـل: ای د اللـه تعالـی رسـوله! کـه چېـرې مـې د لیلـة القـدر شـپه ومونـدلـه؛ نـو کومـه دعـاء بـه وایـم؟ محمـد ﷺ وفرمایـل: ووایه:((اللَّهُـمّ إِنّـكَ عَفُـوٌّ تُحِـبُّ الْعَفْـوَ فَاعْـفُ عَنّـيْ)).(۲):

ترجمـه: ای لویـه ربـه! تـه ډېـر ښـوونکی یې او ښـښـنه خوښـوې؛ نـو مـا تـه ښـښـنه وکـړه.

ولې د قدر شپه پټه شوه؟

علمـاوو د قـدر شـپې د پټوالـي لاملونـه پـه لانـدې توګـه بیـان کـړي دي:

الـف: کـه دغـه شـپه ښکـاره وای، نـو ډېـرو خلکـو بـه یـوازې پـه دغـې شـپه عبـادت کولـو او د نورو شـپو لـه عبـادت نـه بـه غافـل وو.

ب: کـه دغـه شـپه ښکـاره وای، نـو ډېـرو خلکـو بـه زړوره هـر ګنـاه کولـه او پـه دغـه شـپه بـه یـې عبـادت کولـو او د اللـه نـه بـه یـې ښـښـنه غوښـتله، نـو ځکـه اللـه ﷻ دغـه شـپه پټـه کـړه.

ج: کـه دغـه شـپه معلومـه وای او د یـو چـا څخـه ناڅاپـه دغـه شـپه پاتـې شـوې وای، نـو د فکـر د خرابـۍ او نـورو خلکـو د خبـرو لـه املـه د نـورو شـپو عبـادت تـه هـم نـه شـوی ویښـېدلای،

اوس خـو لـږ تـر لـږه دوې درې شـپې د دغـې شـپې پـه تمـه رڼـوي.

د: څومـره شـپې د دغـې شـپې پـه لټـه څـوک ویـښ پاتـې کېـږي د هغـو ټولـو بېـل بېـل ثـواب ورکـول کېـږي او ګـڼ شـمېر نـورې ګټـې هـم پکـې دي.

نـو ښـه ده چـې د روژې لـس وروسـتۍ شـپې پـه ځانګـړي توګـه طـاق شـپې رڼـې شـي.

# له نشه‌يي توکو سره مبارزه او د نړیوالې اجماع اړتیا

**ابوالیاس**



د اسـلامي امـارت مشـرتابه د روان هــ ش کال د وري پـه ۱۴ مـه نېټـه د یـو فرمـان پـه تـرڅ کـې پـه هېـواد کـې د کوکنـارو او چرسوکښـت او د نشـه‌يي توکـو پـر تولیـد، قاچـاق او اسـتعمال بندیـز ولـګاوو او سـرغړوونکیو تـه یـې د شـرعي احکامـو مطابـق د سـزاء سپارښـتنه وکـړه.

د دغــه فرمــان پــر بنســټ د هــر ډول نشــه‌يي توکـو لکـه شـرابو، هیروئینـو، شیشـه، تابلیـت k او چرسـو، کـر، تولیـد، اسـتعمال منعـه شـوی دی.

دا پـه داسـې حـال کـې ده چـې اسـلامي امـارت پـه ۲۰۰۱ میـلادي کال کـې هـم د یـو فرمـان پـه صادرولـو سـره پـه ټـول هېـواد کـې د کوکنـارو کښـت کچـه کابـو صفـر تـه ورسـوله.

خـو کلـه چـې د امریـکا پـه مشـرۍ ۴۸کفـري هېوادونـو پـه ۲۰۰۲ کال کـې افغانسـتان اشـغال کـړ، سـره لـه دې چـې پـه میلیاردونـو ډالـر یـې د نشـهيي توکیـو پـر ضـد مبـارزې پـه نـوم ولګـول خـو پایلـې یـې برعکـس وې.

پـه افغانسـتان کـې د امریـکا متحـده ایالتونـو پلټوونکـي اداري د تېـر کال د اکتوبـر د ۳۰ مـه رپـورټ پـر بنسـټ یـاد هېـواد لـه ۲۰۰۲ کال راهیسـې پـه افغانسـتان کـې د نشـه‌يي توکـو پـر ضـد مبـارزې برخـه کـې ۸.۹۴ میلیـارد ډالـر لګولـي دي او بریټانیـا هـم چـې پـه افغانسـتان کـې یـې د نشـه‌يي توکیـو ضـد مبـارزې هڅـو د همغـږۍ مسـوولیت درلـود، هـرکال یـې لـه دغـو توکیـو سـره د مبـارزې پـه برخـه کـې پـه میلیونونـو ډالـرو مرسـتې اعلانولې.لـه دې سـرببره د نشـه‌يي توکـو پرضـد د مبـارزې وزارت، د کورنیـو چـارو وزارت لـه نشـهيي توکـو سـره د مبـارزې معینیـت، لـه نشـه‌يي توکـو سـره د مبـارزې څارنوالـۍ او محکمـې پـه نومونـو اداري جـوړې شـوي او هـر کال د کوکنارو کښـت لـه منځـه وړلـو پـه نـوم د میلیونونـو ډالـرو پـه لګښـت کمپاینونـه ترسـره کیـدل خـو تـر پایـه نـه د کوکنـارو کښـت کـم شـوه او نـه هـم د نشـه‌يي توکـو د قاچـاق اصلـي شـبکې لـه منځـه یـوړل شـوې، بلکـې ټولـې دغـې هڅـې نمایشـي او د کوچنیـو کاروباریانـو پرضـد متمرکـزې وې څـو لویـو شـبکو تـه د لازیاتـې ګټـې وټـې او خونـدي سـوداګرۍ زمینـه برابـره شـي.

دا چـې پـه تېـرو دوو لسـیزو کـې د هېـواد هوایـي حریـم د بهرنیـو یرغلګـرو پـه واک کـې وو، نـو ویـل کېـږي چـې نشـه‌يي توکـي د بهرنیـو یرغلګـرو لـه خـوا پـه خونـدي توګـه د هوایـي ډګرونـو لـه لارې نـورو هېوادونـو تـه لېږدول کېـدل.

دا چـې نشـه‌يي توکـي د وسـلو لـه قاچـاق وروسـته پـه نـړۍ کـې د ګټـې وټـې دویـم درجـه اقتصـادي فعالیـت دی چـې هـر کال کابـو ۴۰۰ میلیـارد ډالـره ګټـه ورڅخـه ترلاسـه کېـږي چـې ډېـره کمـه برخـه یـې افغـان بزګـرو او نـوره یـې سـترو مافیایـي شـبکو تـه رسـېږي.

کـه څـه هـم افغانسـتان یـو لـه هغـو هېوادونـو څخـه دی چـې د نـړۍ کابـو ۹۰ سـلنه کوکنـار پـه کـې کـرل کېـږي خـو هغـه کیمیـاوي توکـي لا هـم لـه بهـره راځـي چـې تریـاک پـر هیروئینـو بدلـوي او همدارنګـه د شـرابو او ټابلیـټ k پـه نـوم نشـه‌يي توکـي ټـول لـه بهرنیـو هېوادونـو څخـه افغانسـتان قاچاقېـږي.

دا چـې اسـلامي امـارت د تېـر پـه څېـر د نشـه‌يي توکـو پـر وړانـدې جـدي مبـارزې تـه ژمـن دی، پـر ټـول هېـواد یـې لـه حاکمیـت وروسـته پـه لومړنـي اقـدام کـې پـه ډېـرو کمـو امکاناتـو سـره د کابـل پـه شـمول یـو زیـات شـمېر ولایتونـو کـې پـر نشـه‌يي توکـو د روږدو کسـانو د راټولولـو، درملنـې او فکـري روزنـې کمپایـن پیـل کـړ چـې پـه تـرڅ کـې یـې یـو زیـات شـمېر معتـادان راټـول او تـر درملنـې لانـدې ونیـول شـول او پـه یـو بـل رغنـده اقـدام کـې یـې د یـو فرمـان لـه لارې پـه ټـول هېـواد کـې د نشـه‌يي توکـو پـر کـر، تولیـد او قاچـاق بندیـز ولـګاوو.

افغانسـتان یـو کرنیـز هېـواد دی چـې کابـو ۸۰ سـلنه وګـړي یـې پـه کرنـه بوخـت دي او د نفـوس ۵۵ سـلنه برخه‌یـي پـه مسـتقیم او غیرمسـتقیم ډول د دغـه سـکټور لـه لارې د خپـل ژونـد چـارې پـر مـخ بیایـي. خـو لـه بـده مرغـه د کافـي اوبـو او ځمکـې نشـتوالی، د کرنـې نـه میکانیـزه کیـدل، دوامـداره وچکالـۍ او د مناسـب بـازار نشـتون هغـه ننګونـې دي، چـې لا هـم د غلـو دانـو او نـورو برخـو کـې پـر صادراتـو بانـدې تکیـه لـري. همدارنګـه د عامـې روغتیـا وزارت د شـمېرو پـر بنسـټ پـه افغانسـتان کـې کابـو ۲.۵ میلیونـه کسـان پـه نشـه‌يي توکیـو روږدي دي چـې ۸۵۰ تنـه یـې ښـځې دي.

نړیوالـه ټولنـه چـې ځـان د بشـر پـه تېـره بیـا د ښـځو د حقونـو مدافـع بولـي، بایـد د دغـو کسـانو د درملنـې او د سـالمو وګړیـو پـه توګـه بېرتـه ټولنـې تـه د راګرځیـدو او افغـان بزګـرو سـره د بدیلـو کښـتونو چمتـو کولـو او د قاچـاق لویـو شـبکو پـه لـه منځـه وړلـو کـې مرسـته وکـړي څـو نـړۍ او افغانسـتان د نشـه‌یی توکـو لـه شـر څخـه وژغـول شـي.

# په مزارشریف ښار کې د حضرت علي (کرم الله وجهه) مقبره حقیقت دی، که روایت؟

**لیکنه او څېړنه: ذبیح الله نوراني**

د اسلام د څلورم خلیفه امیرالمؤمنین حضرت علي(کـرم اللـه وجهـه) تـه پـه بلـخ کـې د منسـوب زیـارت پـه اړه ډول، ډول اقـوال او روایـات موجـود دي، ډېـر خلـک پـه دې بـاور دي، چـې د حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه ) زیـارت پـه بلـخ کـې هېـڅ وجـود نـه لـري او هغـه تـر شـهادت وروسته د عـراق په نجف کې پـه مخفیانـه توګـه خـښ شـوی دی، یـو شـمېر بیـا پـه دې بـاور دي، چـې د حضـرت علـی( کـرم اللـه وجهـه) زیـارت پـه بلـخ کـې موجـود دی او بلـخ تـه د انتقـال اسـناد او شـواهد یـې پـر حقیقـت ولاړ دي.

دا چې په حقیقـت کـې د نومـوړي زیـارت دلته موجـود دی کـه نـه؟ کـه موجـود دی، د کومـو اسـنادو او شـواهدو پـر بنـا موجـود دی؟ د روضـې شـریفې د جوړېـدو بنسـټ کلـه ایښـودل شـوی او د چـا لخـوا او پـه کومـو وختونـو کـې جـوړه شـوې او تکمیـل شـوې، معلومـات یـې ستاسـو پـه وړانـدې پـه ترتیـب سـره شـریکوو او قضـاوت هـم تاسـو تـه پرېږدو.

**د حضـرت علـي (کـرم اللـه وجهـه) لنـډه پېژندنـه:**

د اسـلام څلـورم خلیفـه امیرالمؤمنیـن حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه) د عـام الفیـل یـا د فیـل واقعـې پـه دېرشـم کال، د رجـب المرجـب میاشـتې پـه ۱۳مـه نېټـه، د جمعـې پـه ورځ، چـې لـه ۶۰۰ زیږدیـز کال سـره سـمون خـوري، پـه مکـه مکرمـه کـې زیږېدلـی دی، پـلار یـې «ابـو طالـب بـن عبدالمطلـب بـن منـاف» د رسـول الله (صلـی اللـه علیـه وسـلم) اکا تـره و، او مـور یـې بـي بـي فاطمـه نومېـده، چـې د اسـد بـن هاشـم لـور وه.

حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه) د حیـدر، اسـدالله، شـېرخدا، مرتضـی، صفـدر، سـخي، شـاه مـردان، شـاه ولایـت، شـاه اولیـاء، نومونـو او لقبونـو یـاد شـوی دی. د ابوالحسـن او ابـو تـراب پـه کنیـه نومونـو یـې هـم یادونـه شـوې ده.

کلـه چـې عبدالمطلـب وفـات شـو او رسـول الله(صلـی اللـه علیـه وسـلم ) لا ماشـوم وو، د رسـول اللـه (صلـی اللـه علیـه وسـلم) سرپرسـتي د حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه) پـلار ابـو طالـب پـه غـاړه واخیسـته، حضـرت علی(کرم‌اللـه وجهـه) شـپږ کلـن و، چـې پـه مکـه مکرمـه بانـدې قحطـي او وچکالـي راغلـه، بیـا د دې لپاره چـې رسول الله(صلـی اللـه علیـه وسـلم) د ابـو طالـب لـه کورنـۍ سـره مرسـته کـړې وي؛ حضـرت علی(کرم‌اللـه وجهـه) یـې دوه کالـه لـه ځـان سـره پـه خپـل کفالـت او روزنـه کـې وسـاته.

کلـه چـې رسـول الله(صلـی اللـه علیـه وسـلم) پـه نبـوت مبعـوث شـو حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه) د لـس کلنـۍ پـه عمـر اسـلام قبـول کـړ، چـې پـه دې سـره نـو حضـرت علي(کرم‌اللـه وجهـه) پـه ماشـومانو کـې لومړنـی مسـلمان شـو، چـې پـه حضـرت محمّد(صلـی اللـه علیـه وسـلم) یـې ایمـان راوړ.

تاریـخ لیکونکـي د حضـرت علـي(رض) د هغـه وخـت پـه عمـر کـې د نظـر اختـلاف لـري د ابـن اسـحاق پـه قـول، چـې معقـول او د بـاور وړ شـخص و، همـدا راز نومـوړی شـخص د لومړنیـو پېړیـو د مؤرخینـو، غازیانـو پـه تاریـخ لیکنـه او سـیرت کـې لـه بـاوري او اعتبـاري شـخصیتونو څخـه بلـل کېـده نومـوړی پـه هغـه وخـت کـې د علـي رض عمـر لـس کالـه بولـي. حضـرت علي(کـرم اللـه وجـه) سـره لـه دې چـې د رسـول اکرم(صلـی اللـه علیـه وسـلم) د تـره زوی و؛ د زوم والـۍ مرتبـه یـې هـم پـه برخـه شـوه او د رسـول اکرم(صلـی اللـه علیـه وسـلم) پـه غېـږ کـې سـتر شـو او د اسـلام د سـتر پیغمبر(صلـی اللـه علیـه وسـلم) نسـل لـه ده څخـه تـر نـن ورځـې پـه یـادګار پاتـې دی.

**لـه حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه) سـره د بیعـت پیـل:**

د پنځـه دېرشـمې سـپوږمیزې پېـړۍ د ذوالحجـې پـه ۲۴مـه د پنجشـنې پـه ورځ « اشـتر نخعـي» لومړنـی کـس و چـې لـه علـي( کـرم اللـه وجهـه) سـره یـې بیعـت وکـړ، تـر هغـه وروسـته د ذوالحجـې پـه ۲۵مـه د پنجشـنبې پـه ورځ، د عثمـان (رض) تـر شـهادت یـوه اونـۍ وروسـته د رسـول اکـرم( صلـی اللـه علیـه وسـلم) د قبـر تـر څنـګ پـه نبـوي مسـجد کـې علنـی او حضـوري بیعـت پیـل شـو. پـه دې اړه نـور قولونـه هـم شـته؛ خـو مـوږ دا قـول د اسـلام د سـتر مـؤرخ او مفسـر علامـه ابـن کثیـر څخـه، چـې د شـهرت بیـان تـه یـې اړتیـا نشـته؛ نقـل کـړی دی.«د البدایـه و النهایـة ابـن کثیـر، ۷ټـوک، ۲۲۷مـخ».

**د حضرت علي کرم الله وجهه د رحلت او شـهادت پېښـه:**

د نومـوړي د خلافـت پـه دوره کـې د خوارجـو یـوه ډلـه د دغـه برحـق امام(کـرم اللـه وجهـه) پـر وړانـدې را پیـدا شـوه او ډېـرې لانجـې یـې ورتـه جـوړې کـړې تـر دې چـې د جمعـې پـه سـهار، د ۴۰مـې سـپوږمیزې پېـړۍ د روژې پـه ۱۷مـه نېټـه د عبدالرحمـان بـن عمـرو مـرادي حمیـري لخـوا، چـې پـه ابـن ملجـم یـې شـهرت درلـود، د سـهار لمانځـه د آذان پـر وخـت پـه کوفـه کـې د ۶۳ کلونـو پـه عمـر کښـې پـه شـهادت ورسـېد. علـي ( کـرم اللـه وجهـه) څلـور کالـه او نـه میاشـتې د اسـلامي نـړۍ د خلیفـه پـه توګـه اسـلامي نـړۍ روښـانه وسـاتله او تـر هغـه وروسـته د اللـه ( جـل جلالـه) حضـور تـه ور سـتون شـو. جنـازه یـې د امـام حسـن (رضـی اللـه عنـه) پـه امامـت سـره اداء شـوه او کوفـې تـه پـه کابـو ۱۲کیلومتـري نجـف کـې، خـاورو تـه وسـپارل شـو. یـو شـمېر مؤرخینـو چـې مطلقـاً کوفـه یـاده کـړې، هـدف یـې د کوفـې اړونـد «نجـف» دی.

د سـیوطي خلفـاوو ژبـاړې «سـراج التواریـخ» ۱۷۳مـخ کـې لـه ابوبکـر عیـاش څخـه دا مطلـب نقـل کـړی دی او عیـن دغـه قـول، پـه «روضةالصَّفـاء» ۲۹۲مـخ او «جامـع التواریـخ» ۱۴۱مـخ او ځینـو نـورو منابعـو کـې هـم موجـود دی.

**د جنازې او تدفین د اختفاء لامل:**

د دغـه اختفـاء یـا پټ خښـولو علـت داسـې بیانـوي: هسـې نـه چـې یـوه ورځ د خوارجـو طائفـه او د بنـي امیـة بدبختـان تـر موندلـو او را ایسـتلو وروسـته، د ده د پـاک جسـد بـې حرمتـي وکـړي.

پـه ۱۲۹سـپوږمیز کال ابومسـلم خراسـانی، چـې د بنـي هاشـمو لـه دعوتګـرو څخـه بلـل کېـدو او د امویانـو پـر وړانـدې یـې قیـام وکـړ، خـو پـه ښـکاره یـې د «امـام ابراهیـم عباسـي»؛ چـې لـه ساداتـو څخـه و، د زړه لـه تلـه یـې د «سـادات حسـیني» پـه نفـع کافـي فعالیـت کاوه او فـوق العـاده تشـکیلات یـې درلـودل؛ امـام جعفـر صـادق تـه یـې لیـک واسـتاوه ( کـه امـام د خلافـت څوکـۍ تـه لېوالتیـا لـري، زه «ابومسـلم» حاضـر یـم چـې د خلافـت لپـاره د رأیـو راټولولـو لپـاره هـر راز خدمـت او سربښـیندنه وکـړم).

**بلخ ته یې د جسد انتقال:**

امـام جعفـر صادق(رضـی اللـه عنـه) پـه ځـواب کـې ورتـه ولیـکل: (ابـو مسـلم تـه ووایـه، کـه چېـرې زمـا کورنـۍ تـه خدمـت کـول غـواړې؛ نـو زه د خلافـت اراده نلـرم، پـه بـدل کـې دې زمـا غـور نیکـه «علـي کـرم اللـه وجهـه»، چـې د خوارجـو لـه وېـرې پـه مخفیانـه توګـه پـه نجـف کـې دفـن شـوی دی، بلـخ ښـار تـه انتقـال کـړي، کلـه چـې د زمـان او مـکان زمینـه سـازي وشـوه، بېرتـه بـه یـې راوړو او پـه مدینـه منـوره کـې بـه یـې دفـن کـړو). ابـو مسـلم د امـام جعفـر صـادق دغـه وړاندیـز قبـول کـړ، د حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه) جسـد یـې لـه نجـف څخـه نقـل او د اوسـني مزارشـریف ښـار خیـران پښـتې «تـل خیـران» پـه سـاحه کـې دفـن کـړ.

کلـه چـې ابـو مسـلم خراسـاني د ۱۳۷سـپوږمیز کال د شـعبان پـه ۲۵مـه د چهارشـنبې پـه ورځ، د عباسـیانو دوهـم خلیفـه ابوجعفـر دوانقـي لخـوا د ۳۷کلونـو پـه عمـر ووژل شـو، د «تـل خیـران» پېښـه او واقعـه ګمنامـه او چُـپ پاتـې شـوه، تـر هغـې چـې د «معزالدیـن ابوالحـارث سـلطان سـنجر بـن ملکشـاه سـلجوقي» د پادشـاهۍ پـه شپاړسـم کال، د مـروې پـه ښـار کـې، چـې د ابـو مسـلم خراسـاني پـه وخـت کـې هـم د نومـوړي اداري مرکـز او کاري دفتـر و، د ابـو مسـلم خراسـاني پـه واسـطه، د حضـرت علـي (کـرم اللـه وجهـه) د جسـد د انتقـال پـه اړه مطالـب کشـف شـول، سـلطان سـنجر دغـه واقعـه «امیـر قمـاچ» تـه، چـې د ده لخـوا د بلـخ والـي ټـاکل شـوی و، د یـوه لیـک پـه واسـطه واسـتوله.

داسـې ویـل شـوي، چـې امیـر قمـاچ تـه د دغـه لیـک د رسـېدو سـره سـم، ۴۰۰ تنـه مخـور او سـیدان هـم حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه) پـه خـوب وینـي، چـې د «تـل خیـران» یـا خیـران پـه پښـته د مقبـرې لـه نـه ښـکاره کولـو څخـه شـکایت کـوي.

بالآخـره پـس لـه کیندلـو یـې لکـه څرنګـه چـې ویـل شـوي و؛ جسـد پیـدا کـوي او د بلـخ والـي امیـر قمـاچ د قبـر د را پیـدا کېدلـو پېښـه او واقعـه د سـلطان سـنجر دربـار تـه اسـتوي.

**د حضـرت علي(کـرم اللـه وجهـه) د روضـې یـا آرامځـای د جوړېـدو پیـل:**

سـلطان سـنجر پـه ۵۳۰ سـپوږمیزکال کـې لـه ډېـرو عسـکرو سـره بلـخ تـه راځـي او هغـې کوټګـۍ تـه، چـې پـه هغـه وخـت کـې د خاورینـې ټپـې پـر سـر جـوړه شـوې وه؛ ځـان رسـوي او دسـتور ورکـوي، تـر څـو د دې ټپـې یـا غونـډۍ لانـدې لـه مرمرینـو ډېـرو څخـه ګنبـذه جـوړه کـړي او لاره یـې د ځمکـې لانـدې لویدیـځ لـوري تـه تـر سـل متـرو پـورې تـذر وتـړي او د یـوه غـار پـه ډول دې هاخـوا تـه خلاصـه کـړي، چـې نـن ورځ دا سـاحه سُـپه او محـراب دی او سـنجر دا دسـتور هـم ورکـړ، چـې د پښـتې پـر سـر د دغـې ګنبـذې د پاسـه د عامـو خلکـو لپـاره لـه خامـو خښـتو یـوه ګنبـذه جـوړه کـړي.

سـلطان سـنجر هنـوز د دې مقبـرې د اصلـي اعمـار اقامـه نـه وه کـړې، چـې د ترکانـو د داړه مـارو ډلـې د فتنـې او شـورش پـه پایلـه کـې د سـنجر سـلطنت لـه منځـه لاړ. پـه ۶۱۷سـپوږمیز کال، د مغـل لـه ناتـار، چـې د بلـخ ټـول تاریخـي او سـپېڅلي ځایونـه یـې لـه خـاورو سـره برابـر کـړل، د دې مقبـرې مجاورینـو د دغـې خامـې کوټـې ګنبـذه، چـې دغـه مقبـره د چنګېـز لـه وړانولـو څخـه پـه امـن پاتـې شـي، پـه خپـل لاس پـه ځمکـه هـواره کـړه او لـه سـیمې څخـه وتښـتېدل.

تـر دې وروسـته پـه بلـخ کـې هېـڅ مقـدس او متبـرک ځـای پاتـې نشـو، تـر هغـه چـې ۲۶۸کاله وروسـته پـه ۸۸۵سـپوږمیز کال د سـلطان حسـین میـرزا بـن منصـور بـن بایقـراء میـرزا بـن امیـر تیمـور، د حکمرانـۍ پـر مهـال د شـیخ شـمس الدیـن محمـد پـه نامـه یـو شـخص، چـې د بایزیـد بسـطامي لـه ډېـرو غـوره عارفـو منسـوبینو څخـه و، لـه ملتـان څخـه یـو کتـاب پیـدا کـړ او بلـخ تـه راغـی، چـې پـه دغـه کتـاب کـې د ابـو مسـلم خراسـاني پـه وخـت کـې د حضـرت علـي (کـرم اللـه وجـه) د تابـوت د انتقـال واقعـه او د ملکشـاه سـلجوقي پـه دوران کـې، د مقبـرې د ظهـور پېښـه یـاده شـوې وه.

دغـه د تاریـخ کتـاب یـې د سـلطان حسـین میـرزا وروړ «بایقـراء سـلطان»، چـې د بلـخ حاکـم و؛ ورسـول او ورتـه یـې ولوسـت. پـه دغـه ورځـو کـې لـه همدغـه تاریـخ سـره برابـر، د دې موضـوع اړونـد ځینـې اسـناد پـه بلـخ او هـرات کـې هـم را پیـدا شـول، تـر دې چـې د بلـخ حاکـم، پـه هـرات کـې د واقعـې تـر څرنګوالـي او کشـف وروسـته، خپـل وروړ تـه غوښـتلیک واسـتاوه، چـې د مقبـرې د جوړېـدو حکـم تـرې واخلـي؛ خـو سـلطان حسـین میـرزا د خپـل وروړ پـه غوښـتلیک اکتفـاء ونکـړه او د پېښـې د ښـه کشـف او یقیـن لپـاره یـې خپـل بـا تدبیـره وزیـر «امیـر علـي شـېر نوایـي» بلـخ تـه واسـتوو. نوایـي بلـخ تـه تـر رسـېدو وروسـته، د پېښـې تـر واقعیت او د خپلـو سـترګو لیدلـی حـال، د یـوه شـعر پـه بڼـه سـلطان حسـین تـه واسـتوو.

سـلطان حسـین چـې د حضـرت علـي (کـرم اللـه وجهـه) د مدفـن اومقبـرې د پیـدا کېـدو واقعـه ولوسـته، پـه وجـد او احساسـاتو راغـی او پـه همغـه سـخته ګرمـۍ، چـې د سـرطان میاشـتې سـره برابـره وه؛ بلـخ تـه پـه سـفر روان شـو. بلـخ تـه لـه رسـېدو سـره سـم، سـلطان حسـین تـر یـو لـړ بحـث او څېړنـو وروسـته، د حضـرت علـي (کـرم اللـه وجهـه) د اوسـنۍ ګنبـذې د جوړېـدو امـر ورکـړ او خپلـه څـو ورځـې همدلتـه پاتـې شـو.

دا وه د حضـرت علـي کـرم اللـه وجهـه د پـاک جسـد د انتقـال خلاصـه، د کوفـې - نجـف لـه سـرحد پیـل او د بلـخ تـر سـیمې بیـان شـوه.

د روضـې شـریفې د جوړېـدو څرنګوالـی او منظـوم یادښـتونه:

دا ګنبـذه چـې (حضـرت علـي کـرم اللـه وجهـه) پـه کـې خـښ دی پـه یـو جریـب مځکـه کـې د درې ګـزه پـه لوړوالـي سـره پـه داسـې شـکل جـوړه شـوې چـې هېـڅ سـتنه او سـتون نـه لـري او د ګنبـذې بانـدنـی لـوری پـه مشـکو وهـل شـوې او معطـره شـوې ده، لـه ګمـو پوښـونو سـره، سـره څلـور خـواوې یـې پـه دوو ښایسـته پوښـونو ښـکلې شـوې دي، د روضـې پـه جنـوب طـرف کـې روضـې تـه څېرمـه دوهمـه ګنبـذه پـه لسـمه سـلیزه کـې د بلـخ شـیباني والـي عبدالمؤمـن خـان پـه وخـت کـې د خانقـا لپـاره جـوړه شـوې ده او د دې ګنبـذو د لاښـه حفاظـت او سـاتنې پـه خاطـر پـه دواړو بانـدې نـورې حفاظتـي ګنبـذې هـم جـوړې شـوې دي.

او د روضـې مبارکـې دوهمـه ګنبـذه چـې د جامـع مسـجد د ګنبـذې پـه نـوم مشـهوره ده، دوه څلەخانـې، یـو محـراب او یـو منبـر لـري او یـو لـوی اوسـپنیز دېـګ چـې پـه دې ګنبـذې کـې ایښـودل شـوی، د عبدالمؤمـن، چـې د هغـه وخـت د بلـخ والـي و، لـه لـوري د زیـارت کوونکـو د نظرونـو راټولېـدو لپـاره ایښـودل شـوی دی.

د اشـترخانیانو دوهـم پاچـا ولـي محمدخـان پـه وخـت کـې د روضـې پـه څلـورو طرفونـو کـې پـه سـل جریبـه ځمکـه کـې یـو چهـار بـاغ جـوړ شـو، د چهاربـاغ پـه شـمال طـرف کـې یـې حـوض جـوړ کـړ، چـې اوږدوالـی او بـر یـې ۶۰ پـر ۶۰ او ژور والـی یـې ۳،۵ متـرو تـه رسـېدو. دا حـوض یـې (حـوض سـران) یـا د مشـرانو حـوض بالـه او شـاوخوا پـرې څوارلـس چنارونـه کېنـول شـوي و. بـل دا چـې د دې لپـاره چـې زیـارت کوونکـي لـه خپلـو څپلیـو او بوټونـو سـره د روضـې انګړغولـي تـه داخـل نـه شـي؛ څلـورو دروازو کـې د بوټانـو ایښـودلو لپـاره منظـم ځایونـه جـوړ شـوي دي، د ختیـځ لـوري دروازه یـې د قاسـم خـان پـه نـوم، د لوېدیـځ دروازه یـې د نظرګاه پـه نـوم او د جنـوب دروازه یـې د بهـاء الدیـن او یـا حـرم سـرای پـه نوم مشـهوره ده.

د روضـې شـریفې کاشـي کاري او میناتـوري پـه ۱۲۸۵هجـري قمـري کال کـې د امیـر شـیر علـي خـان پـه وخـت کـې، هغـه مهـال پیـل شـوه، چـې محمدعالـم خـان د بلـخ والـي و.

تـر ټولـو وړانـدې د روضـې شـریفې کاشـي کاري او میناتـوري د روضـې شـریفې د ګنبـذې لـه څنـډو څخـه پیـل شـوه او بیـا وروپسـې د جنـوب او شـمال دروازو کاشـي کاري او میناتـوري د اسـتاد سـمیع خـان لـه لـوري ترسـره شـوه، ویـل کېـږي، چـې نومـوړي د روضـې پـه دغـه مانـۍ کـې ۷۰۰ ډولـه کاشـي کارولـې ده.

وروسـته پـه ۱۲۹٤ قمـري کال کـې د شـمال دروازه هـم د شـېردل خـان لخـوا، چـې د امیـر شـېرعلي خـان نائـب اعظـم و؛ جـوړه کـړه.

ختیـځ او او لوېدیـځ دروازې یـې د امیـر شـېرعلي خـان، وزیرمحمـد اکبرخـان غـازي مقبـرې، د امیـر عبدالرحمـن خـان او امیـر حبیـب اللـه خـان پـه پاچاهـی کـې لـه ۱۲۹۷ تـر ۱۳۳۷ کال پـورې او جنوبـي دروازه یـې پـه ۱۳۱۹ د ګل احمدخـان غزنـوي، چـې د هغـه وخـت د بلـخ والـي او حاکـم و، جـوړه او کاشـي شـوې ده.

د حـرم د ګنبـذې چـت، د ګنبـذې لانـدې څنـډې د خانقـاه ګنبـذه او د ټولـو ګنبـذو د ننـه خـواوې د اسـتاد اسـلم خـان کابلـي او علـم خـان غزنـوي لـه لـوري خطاطـي، میناتـوري، تذهیـب او رنـګ شـوې دي.

لـه ۱۳۳۷ څخـه تـر ۱۳۵۸ قمـري کال پـورې کلـه چـې د بلـخ والـي غـلام رسـول پـره مـاچ و، د روضـې یـا آرامځـای لویدیـځ لـوري تـه پـه ۱۷۲۰ متـر مربـع مسـاحت سـره جامـع مسـجد جـوړ او کاشـي کاریـې یـې هـم تـر سـره شـوه. د مسـجد دېوالونـه لـه بېـرون څخـه تـر سـر پـورې، د ننـه څخـه تـر څنـډو پـورې هـم کاشـي کاري شـول او پاتـې یـې پـه ګچـو جـوړ شـول او چـت یـې چـې یـې پـه ۱۱۰ بتونـي سـتنو ولاړ و هـم کاشـي کاري شـو.

دا مسـجد د یـو منبـر درلودونکـی و، چـې د رخـام لـه ډېـرې څخـه جـوړ شـوی و، او محـراب یـې بیـا مقرنـس کاري یعنـي پـه یـوه ځانګـړې تزئیـن سـره جـوړ شـوی و، دا چـې د روضـې لویدیـځ لـوري تاریخـي دروازه یـې پـه منـځ کـې راتلـه د دې مسـجد د اعمـار پرمهـال د مرکـزي حکومـت پـه دسـتور د دې دروازې لـه منځـه تللـو څخـه مخنیـوی وشـو او یـاده دروازه یـې د مسـجد د محـراب پـه ځـای باقـي پرېښـوده.

دې ښایسـته مسـجد، چـې د روضـې شـریفې سـره ډېـر تناسـب او ورتـه والـی درلـود او د ښـار د غـرب لـه لـوري د روضـې د لویـې ګنبـذې د نمـا یـا لیدلـو مانـع هـم نـه ګرځېـد، پـه ۱۳۹۶ هجـري لمریـز کال کـې وروسـته لـه هغـه چـې لویدیـځ لـوري تـه یـې یـو لـوی مسـجد جـوړ شـو، وران او دا ځـای د نـوروز جنـډې د پورتـه کېـدو مراسـمو لپـاره، د ګډونوالـو د کېناسـتلو پـه خاطـر د یـوې سـوپې پـه توګـه جـوړ شـو.

همـدا ډول د نـوي مسـجد د جوړېـدو لـه چـارو سـره د روضـې شـریفې چهـار بـاغ تـه د ننوتلـو کاشـي شـوې څلـور دروازې، شـمال، جنـوب، ختیـځ او لوېدیـځ خـواوو تـه هـم جـوړې شـوې.

د آرامـګاه او زیـارت ډېـرو برخـو بانـدې پـه مختلفـو هنـري خطونـو او ډېرلیکونـو د روضـې د جوړېـدو تاریـخ، پـه دري ژبـه شـعرونه او د قرآنکریـم آیتونـه لیـکل شـوي او یـا کاشـي کاري شـوي دي، د روضـې شـریفې د جنوبـي دروازې پـر سـر د مولانـا نورالدیـن عبدالرحمـن جامـي (رحمـه اللـه) څلوریـزه پـه لاجـوردي رنـګ پـر کاشـي نقـش شـوې ده.

گوینـد که مـرقد علی در نـجف است
در بلخ، بیا ببین، چه بیت‌الشّرف است
«جامی»! نه عدن گوی، نه بین‌الجبلین
خورشید یکی و نور او هر طرف است

د روضـې شـریفې پـه جنوبـي دروازه کـې دری کتیبـې یـا ډېرلیکونـه، چـې د روضـې شـریفې د اعمـار تاریـخ او د دروازې د سـاختمان د جوړېـدو شـرحې پـه اړه یادونـه شـوې ده موجـود دي، او همـدا رنګـه د ظاهـري پـه نـوم د یـوه شـاعر نظـم او د امیرشـیرعلي خـان د وخـت د بلـخ والـي محمدعلـم خـان لخـوا د ۵۲ دوکانونـو جوړېدل او روضـې تـه یـې د وقـف کولـو یادونـه هـم شـوې او د نظـم پـه توګـه یـې د نقـرې پـر ډېـرې لیـکل شـوی او نصـب کـړی دی.

د امیـر دوسـت محمـد خـان زوی «سـردار احمدخـان» قصیـده هـم د ګنبـذې د حـرم پـه داخـل کـې د ګنبـذې پـه بانـدنـي مـخ پـه ښـکلي خـط د میرنظـام الدیـن انصـاري لـه لـوري نقـش شـوې ده، پـه بلـخ کـې د حضـرت علـي کـرم الله وجهـه د زیـارت پـه اړه د ډېـرو تاریخـي کتابونـو پـه متنونـو کـې یادونـه شـوې، لـه تیموریانـو وروسـته یعنـې لـه نهمـې هجـري قمـري پېـړۍ وروسـته یـې یادونـه ډېـره زیاتـه شـوې ده او د دې روضـې د سـتایلو پـه اړه ډېـرو شـاعرانو شـعرونه هـم ویلـي دي.

لـه دې جملـې څخـه قطـب الدیـن سـید حسـین میرحـاج ګنابـادي هـروي دی، چـې ۹۲۳ یـا ۹۲۰ هجـري قمـري کال کـې وفـات شـوی دی، نومـوړي پـه خپـل دېـوان کـې چـې د سـید عبـاس رسـتاخیز سـانچارکي لـه لـوري تصحیـح شـوی او پـه ۱۳۹۸ هجـري لمریـز کال کـې د دلیـران پـه قـم ښـار کـې چـاپ شـوی د حضـرت علـي (کـرم اللـه وجهـه) پـه اړه یـې قصیـده راوړې، چـې پـه کـې ویـل شـوي چـې د حضـرت علـي ( کـرم اللـه وجهـه) زیـارت پـه بلـخ کـې موجـود دی، مولانـا عبدالقـادر بیـدل دهلـوي چـې پـه ۱۰۵۶ هجـري قمـري کال کـې زیږېدلـی دی او پـه ۱۱۳۳هجـري قمـري کال کـې وفـات شـوی او د دري ژبـې لـه نومـوتـو معروفـو شـاعرانو څخـه دی، پـه خپـل یـوه بیـت کـې پـه بلـخ کـې د حضـرت علـي (کـرم اللـه وجهـه) د زیـارت د موجودیـت پـه اړه یادونـه کـړې ده.

اوس د حضـرت علـي کـرم اللـه وجهـه آرامځـای، مسـجد، دروازو او چهاربـاغ ۱۰۵ جریبـه ځمکـه نیولـې. مزارشـریف

۷/۹/۱٤٤۵ - ۲۷/۱۲/۱٤۰۲

## شعر و ادب

# غزل

**حضرت مولانا (رح)**

آمد شهر صیام سنجق سلطان رسید
دست بدار از طعام مایده جان رسید

جان ز قطیعت برست دست طبیعت ببست
قلب ضلالت شکست لشکر ایمان رسید

لشکر والعادیات دست به یغما نهاد
ز آتش والموریات نفس به افغان رسید

البقره راست بود موسی عمران نمود
مرده از او زنده شد چونک به قربان رسید

روزه چو قربان ماست زندگی جان ماست
تن همه قربان کنیم جان چو به مهمان رسید

صبر چو ابریست خوش حکمت بارد از او
زانک چنین ماه صبر بود که قرآن رسید

نفس چو محتاج شد روح به معراج شد
چون در زندان شکست جان بر جانان رسید

پرده ظلمت درید دل به فلک برپرید
چون ز ملک بود دل باز بدیشان رسید

زود از این چاه تن دست بزن در رسن
بر سر چاه آب گو یوسف کنعان رسید

عیسی چو از خر برست گشت دعایش قبول
دست بشو کز فلک مایده و خوان رسید

دست و دهان را بشو نه بخور و نه بگو
آن سخن و لقمه جو کان به خموشان رسید

# د درمان تمه لرمه

**طارق**

د زړه پر کلـي راشــه د باران تـمه لـرمه
رنځور یم در رغیـږم د درمان تـمه لرمه
د هیلو په انگړ کې مې جسد پر اوږو واخله
چې ورک یمه له خپلو، د خپل ځان تمه لرمه
یو وخت به دریادیږم زما نوم به دې پر خوله وي
رقـیبه لیـونیـه!!! د جـــانــان تمـــه لرمــه
گودر مې راته سم کړئ او نښتر ورته پیدا کړئ
منگـي مې ډکومـه د پیـزوان تمه لرمـه
بوډا یمه تصویر مې د زړو یادونو نوم دی
د خپل زاړه وجود څخه د ځوان تمه لرمه
هی هی مې راسره دی او اتڼ ته مې زړه کیږی
دا ځکـه د ودان افـغانـستان تـمـه لرمـــه
قلم په لاس کې راکړئ د سیالانو سره یو یم
طـارق که خدای کـوله د میـدان تمه لرمه

# اهمیت حجاب از نظر اسلام

**آرشیف شریعت**



حجاب که بمعنی پوشش خاص زنان است و زنان مسلمان به پوشیدن آن مکلف شده است یکی از موثرترین اسباب و وسایلی است که در عفت، پاکدامنی اجتماعی و فردی و تطهیر جامعه از لوث رذایل و انحطاط اخلاقی نقش غیر قابل انکار دارد با در نظر داشت همین ملحوظ مهم وحیاتی در آیات متعدد قرآنی و احادیث زیادی به پوشیدن این نوع پوشش دستور داده است. چنانکه در آیه مبارکه (۳۱) سوره النور در این خصوص الله متعال چنین می فرماید: ترجمه: «و به زنان مومن بگو: (چشمان خود را از نامحرمان ) بپوشند و شرمگاه خود را حفظ کنند و پاکدامنی ورزند. و زینت خود را ظاهر نسازند مگر آنچه از آن آشکار است و باید که چادرهای خود را بر گریبانهای خود بیندازند.» در این آیه مبارکه که به آیت ستر مشهور است به صراحت امر داده شده است که زنان همان طوری که چشم های خود را از دیدن نامحرم، مردان اجنبی و بیگانه باید محافظت کنند بخاطر جلوگیری از ظاهر شدن زینت خود که موجب بروز فتنه در جامعه می گردد باید تدبیر بسنجند و هیچ تدبیری موثر تر و معقولتر از اختیار نمودن حجاب و پوشش خاص دراین زمینه نیست.

و همچنان در آیه مبارکه (۳۳) سوره لاحزاب نیز چنین آمده است.

ترجمه: «و درخانه های تان قرار گیرید و همچون زینت نمایی روزگار جاهلیت پیشین خود نمایی نکنید.»

دراین آیۀ مبارکه نیز از بیرون شدن بدون نیاز زنان از خانه، تبرج وخود نمایی زنان درمحضر عام که در زمان جاهلیت مروج بوده است منع شده است، چون زینت نمایی زنان باعث بروز فتنه در جامعه گشته و موجب رسیدن آسیب های روحی و روانی برای زنان می گردد؛ ولی با اختیار نمودن و پوشیدن حجاب در بیرون از خانه هم از جامعه بروز فتنه ها محفوظ می ماند و هم روح و روان زنان آسیب نمی بیند.

همچنان در آیه مبارکه (۵۳) سوره الاحزاب الله متعال چنین می فرماید: ترجمه: «و چون از زنان پیغمبر متاعی خواستید ازپس پرده از ایشان بخواهید، این برای دل هایتان و دل های آنان پاکیزه تراست.»

در این آیۀ مبارکه به صراحت گفته شده است با وجود اینکه زنان پیامبر (ص) مادران مؤمنان اند، ولی بازهم هرگاه خواستید با آنها هم کلام شوید باید این گفتگو از پشت پرده صورت گیرد که این باعث تزکیه و پاکی قلب ها می گردد.

پس قابل دقت است هرگاه در مورد امهات المومنین دستور الهی چنین است در مورد عامۀ زنان دستور رعایت حجاب و ستر موکدتر و شدید تر خواهد بود؛ چون زمینه وقوع در حرام و فتنه در خصوص عامه زنان نسبت به زنان پیامبر (ص) بیشتر و سهل ترخواهد بود. در آیه مبارکه (۵۹) سوره الاحزاب نیز در خصوص پوشیدن جلبات و چادر مخصوص چنین آمده است: ترجمه: این پیغمبر به زنانت و دخترانت و زنان مومنان بگو: چادرهایشان را برخود بیندازند.» در این آیه مبارکه هم به پوشش جلباب و چادر مخصوص که از زینت نمایی زنان در محضر عام جلوگیری کند دستور داده شده است تا از این طریق راه های وقوع فتنه و حرام بسته شده و از ملوث شدن افراد جامعه در رذائل اخلاقی جلوگیری صورت گیرد.

همچنان با در نظر داشت اهمیت و جدیت این مسأله دراحادیث متعدد نیز بر لزوم استفاده از حجاب و پوشش خاص برای زنان در محضر عامه: مردم تاکید شده است چنانکه در روایتی در این خصوص چنین آمده است: ترجمه: «زمانی که رسول الله (ص) برای زنان دستور داد تا درعیدگاه بروند، زنان گفتند که ای رسول خدا بعضی از زنان چادر و پوشش خاصی خود را ندارند تا بپوشند و بیرون شوند. رسول الله (ص) فرمودند: باید خواهران شان از چادرهای خود به آنها بپوشانند.

از این حدیث بسیار به وضاحت معلوم می گردد که صحابیات و زنان مسلمان درعصر طلایی نبوت و خیرالقرون بدون رعایت نمودن حجاب و پوشش خاص از خانه های خود بیرون نمی شدند وهمین خاطر از رسول خدا (ص) در مورد رفتن زنان که چادر نداشتن به عیدگاه پرسان کردند و رسول اکرم (ص) راه حل معقول و منطقی را برای آنها بیان فرمودند که از چادر و حجاب خواهر خود استفاده کنند؛ ولی رفتن بدون حجاب را برای شان اجازه نداد که این خود نشان دهنده اهمیت و مبرمیت حجاب در تعلیمات رسول الله (ص) باشد و اصحاب پیامبر (ص) نیز به آن اهتمام می کردند.

وهمچنان در روایت دیگری نیز دراین خصوص از عایشه رضی الله عنها چنین نقل شده است:

ترجمه: عایشه رضی الله عنها می فرماید: رسول الله (ص) وقتی که نماز صبح را اداء میکرد زنان درحال ازمسجد بر می گشتند که در چادرهای خود پیچیده می بودند و هیچ کس آن ها را در تاریکی نمی شناخت

از این روایت هم به وضوح معلوم می گردد که در عصر طلایی نبوت و خیرالقرون زنان مسلمان از حجاب و پوشش مخصوص در بیرون از خانه های خود حتی در مساجد استفاده می کردند، پس حالا که در زمان اوج فتنه ها زندگی داریم بخاطر حفظ مصؤونیت زنان و تطهیر جامعه لازم است از این نوع پوشش های مناسب اسلامی استفاده گردد، تاهم زنان مومنه از چشمان حریص مردان چشم چران مصؤون بمانند و هم جامعه به سویی بی حیای سوق داده نشود.

در روایت دیگر نیز ازعائشه رضی الله عنها در این خصوص چنین روایت شده است. ترجمه: «ام المومنین عایشه رضی الله عنها می فرماید که در سفر حج قافله ها از نزد ما می گذشتند درحالیکه ما همرای رسول الله (ص) درحالت احرام بودیم، پس هرگاه صاحبان قافله به ما نزدیک می شدند هر یکی ازماها چادر خود را بر روی خود می انداخت و هرگاه آنها دور می شدند باز روهای خود را باز میگردیم.»

دراین روایت نیز به اهمیت حجاب و پوشش مخصوصی که چهره و روی خانم ها را از اجانب مستور نگهدارد حتی در سفر حج و درحرام حکایت شده است، پس درحالات عادی و درعصر اوج فتنه ها که زمینه و اسباب به بی راهه کشانیدن مردان و زنان ازهر وقت دیگر بیشتر و سهل تر است اهمیت اختیار نمودن این نوع پوشش خاص ورعایت نمودن حجاب اسلامی بیشتر از هر وقت دیگر خواهد بود.

درآخر به طور خلاصه باید گفت که با در نظر داشت ایات و روایات ذکر شده که در آن ها به اهمیت و مبرمیت حجاب و پوشش مخصوص زنان در بیرون از خانه به منظور حراست از عفت وعزت زنان و بخاطر جلوگیری از اشاعه ی فحشاء و ازاله منکرات تاکید شده است و زنان مسلمان نیز در عصر نبوت وخیر القرون به آن پابند بوده و التزام داشتند پس در شرایط کنونی و در این عصر اوج فتنه ها بخاطر تزکیه و تطهیر جامعه از شیوع انحطاط و رذایل اخلاقی، مصوونیت وحراست عفت زنان لازم است حجاب را در بیرون از خانه ها جدی بگیرند و به تبلیغات زهراگین، فریب دهنده و میان تهی دشمنان اسلام که به نام دفاع از حقوق زنان در بی عزتی زنان و از هم پاشاندن شیرازه کانون مقدس خانواده اند گوش ندهند چون دشمنان اسلام در کشور های اسلامی با این شعارهای اغوا کننده و فریب دهنده خود و با ابزار قرار دادن زنان و شکار نمودن آنان در پی اشاعه فحشاء، بداخلاقی و منکرات بوده تا به این وسیله به پرتگاه سقوط سوق دهند، پس بر امت اسلامی خاصتا زنان مسلمان لازم است تا با درک واقعیت ها و با پیروی ازاحکام و دستورات دین مقدس اسلام در برابر موج از فتنه ها و تهاجمات فرهنگی و فکری مبارزه کنند و نگذارند که دشمنان اسلام با ابزار قرار دادن زنان جوامع و کشور های اسلامی را به تباهی بکشانند.

# روان کال کې څه باندې دوه زره سیلانیانو د غزني له موزیم څخه لیدنه کړې

د غـزني ولایـت د اطلاعاتو او کلتور ریاسـت مسـولینو ویلي، د تیر کال پرتله سږکال د موزیم د لیدونکو په شـمېر کې زیاتوالی راغلی دی او په وینا یې؛ د روان کال له پیله تراوسـه دوه زره او ۷۱۲ تنو، چې ۲۹۶ تنه یې بهرني سـیلانیان و، د غزني ولایت له موزیم څخه لیدنه کړې ده.
د غـزني ولایـت د اطلاعاتو او کلتـور رییس مولوي حمیدالله نثار ویـلي؛ دا مهال په موزیم کـې ۱۵۰ قلمه آثار نندارې ته ایښـودل شـوي دي، چې له اسـلامي دورې وړاندې او اسلامي دورو پورې تړاو لري او په ورځني ډول لسګونه لیدونکي لري.
نوموړي زیاته کړې؛ په موزیم کې ډبرین، فلزي، ختين، کاشي او مسي آثار ایښودل شوي، چې د غزنویانو، باختریانو، کوشـانیانو او ساسـانیانو دورو پورې تړاو لري.
د یادونې وړ ده، چـې د غزني موزیم په ۱۳۵۶ هـ ل کال کې جوړ شـوی، چې د هېواد له بډایه موزیمونو څخه ګڼل کیږي.

## افزایش میزان بازدید...

وفرهنـگ غوربه آژانـس باخترگفـت: بنابرتلاش های آنان، موزیم غورگشـایش یافت واکنون دوصدو پنجاه اثرتاریخـی ازدوره هـای قبـل ازاسـلام ، دوره های کوشـانی ها، غوریـان ومغول هـا درآن نگهداری می شود.
عبدالباقی حـزب الله مدیر موزیم غـور می‌گوید که روند بازدید ازین موزیم، روبه افزایش اسـت، موزیم غور، همه روزه به روی بازدید کنندگان بازاست.

## برای تطبیق سریع پروژه های انکشاف...

سرپرسـت وزارت معـادن و پترولیـم گفت: این وزارت به منظور تسریع پروژه های انکشـاف ملی آماده همکاری است.
شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم همچنان با شاهپور حسن‌زی وکیل اسـبق پارلمان که دراین اواخر از طریق کمیسـیون ارتباط با شـخصیت های افغان به کشـور برگشته است ملاقات نمود.
دراین ملاقات شاهپورحسن زی مشکلات،نظریات و پیشنهادهای خویش را با سرپرست وزارت معادن و پترولیم و رییس کمیسیون ارتباط شریک کرد.
سرپرسـت وزارت معادن و پترولیم تمام مشکلات و پیشـنهادهای او را شـنید و برای حـل آن وعده همکاری داد.

## ۱۶ ټانکره بې کیفیته تیل...

مطابقت نه درلود بېرته ایران ته مسترد کړي دي.
خبرپاڼه زیاتوي، چې په دې وروسـتیو کې ستندرډ ملي اداري پـه خورا جدیت د بـې کیفیته تېلـو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي.
یادې ادارې له ټولو سـوداګرو څخه غوښتنه کړې، چې هېواد ته با کیفیته توکي وارد کړي، کنه نو له ورته قانوني چلند سره به مخ شي.
د یادونې وړ ده، چې یادې ادارې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ څخه تر اوسه پورې سـلګونه ټانکره بې کیفیته نفتي توکي اړوندو هېوادونو ته مسترد کړي دي.

## افزایش چهل وسه درصدی عاید...

طرح شـده ،بدخشان در چند سـال آینده سیر اقتصادی خوبی را پیش روی خواهد داشـت و به منظور رسـیدن به این هدف نیاز مبرم اسـت تا مسؤلین اداره‌ها و مردم با حکومت خود همکاری کنند تا دیگر کشور به کمک‌های جهانی متکی نباشد.»
مولـوی محمد انور «زاهد» مسـتوفی بدخشـان دراین نشست گفت که آنان توانسته اند، ازطریق بیست وهشت اداره ی عاید زا، دردوازده ماه گذشـته، چهارصدو شصت وسه ملیون افغانی عاید گرد آوری کنند که این، چهل وسه درصد افزایش را نشان می دهد.
اوگفت تلاش دارند تا کشـف بیشـتر سرچشـمه های عایداتی وبا توجه به شـفافیت ایجاد شـده، میزان عواید بدخشان را همچنان افزایش دهند.

## دایکنډي کې ۲ دیني مدرسې...

کې خلک دیني علومو زده کړې ته و هڅول او د ښوونیزو مرکزونو پر پراختیا یې ټینګار وکړ.
له بلې خوا یـو دیني عالم محمد نادرآیـت د خلکو په استازیتوب خبرې وکړې او ویې ویل چې د دیني مدرسو د جوړېدو ملاتـړ کوي او د هر ډول همـکارۍ ډاډ یې ورکړ.
د یادونې وړده، چې دغه دیني مدرسـې نږدې ۳۰۰ زده کوونکي لري.

## د اتحاد جریدې عواید ۳...

پـه ورته وخت کې د اتحاد جرېـدې د بغلان ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاسـت د خپرونـو لومړنۍ چاپي خپرونـه ده، چې له څه باندې سـلو کلونو راهیسـې د اطلاعاتو په برخه کې فعالیت لري.

## آغاز کار قیرریزی جاده ی...

«بدری»، رئیس فوائدعامه نیمروز به آژانس باخترگفت که این اداره، شـصت میلیون افغانی را صرف قیرریزی این جاده می کند.
اوگفت: ایـن جاده دوهزارمترطـول و هفت مترعرض دارد ودرمسـیرآن دو پلچک ویک پل نیز سـاخته می شود.
شـیخ محمد قاسـم خالد والی نیمروز درمراسم آغاز کار قیرریـزی دوهزارمتـر جاده درشـهر زرنج، گفت که امارت اسـلامی تلاش دارد تا بـا تطبیق پروژه های توسعه یی، برای مردم رفاه بیاورد.

## کارساخت بخشی ازکانال قوش تیپه...

تامین شـود و همچنان با سـاخت نیروگاه، این بند می تواند، نوروانرژی مردمان بخشـی ازشمال افغانستان را تامین کند.
یک مسـوول این پروژه بـه آژانس باخترگفـت که آنان کارکندن کاری این کانال را در ولسـوالی آقچه جوزجان ازدیروز آغازکردند.
دهقانان ودرکل، باشـندگان شـمال افغانستان، ازتلاش های امارت اسـلامی برای سـاخت ایـن کانال بزرگ، اسـتقبال می کنند وآن راباعث شـکوفایی درکشت وکار و درنهایت رونق اقتصاد مردم وافغانستان می خوانند.

## کابل کې یو شمېر...

منسـوبینو له لوري د یو لړ کشـفي عملیاتو په ترڅ کې چې د کابل ښـار د ۶مې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې یې ترسـره کړل بېلابېل ډوله وسلې او مهمات کشف او ترلاسه شول.
د سـرچینې د مالوماتو لـه مخې په دغو وسـلو کې ۲ کلاشـینکوفونه، ۱۸ لاسـي بمونه، ۷ د لاسي بم پټاقۍ، یوه آی کم مخابره، ۳ دودي پشـنګان، یو د کلاشینکوف شاجور سره له ۳۰ فیره مرمیو شامل وو.
پـه خبرپاڼه کې پـه دې تړاو نور جزئیـات نه دي خپاره شوي.

## پر افغانستان د پاکستاني الوتکو د تجاوز...

د افغانسـتان اسـلامي امارت یاد بریدونه په کلکـو ټکو غندي او دغه غیرسـنجیده اقدام د افغانستان په حریم تجاوز او تېری بولي.
د افغانسـتان اسلامي امارت، چې د نړۍ د زبرځواکونو پرخلاف د ازادۍ د اوږدې مبارزې تجربـه لري، هیڅاته پخپله خاوره د تېري اجازه نه ورکوي.
پاکستانی ولس او نوی ملکي حکومت باید پرې نږدي، چې د پوځ څـو تنه جنرالان په دغه ډول بې باکه کړنو سره د تېرو شـلو کلونو پـه څېر د نورو جهتونو د ګټو لپاره خپلو غلطو سیاسـتونو ته دوام ورکړي او د دوو مسـلمانو ګاونډیو هېوادونو اړیکې خرابې کړي.
پاکسـتان باید پخپله خاوره کې د پېښـو د نه کنټـرول، ناتواني او سـتونزو پړه پر افغانسـتان وانچوي ځکه داسـې پېښې خورا بدې پایلـې درلودلی شي، چې بیا به یې کابو کول د پاکسـتان په اختیار کې نه وي.
د افغانسـتان اسـلامي امـارت هیڅاتـه اجازه نـه ورکـوي، چـې د افغانسـتان له خـاورې څخه په اسـتفادې د چـا امنیت خراب کړي.

## د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال د شینوارو ...

د اسـلامي امارت رهبري څخه وغوښتل چې په شینوارو ولسوالیو کـې د روغتیایي، پوهنـې او کارموندنې پـروژو ترڅنګ پراختیایي پروژې تطبیق کړي.
په ورته وخت کې د ریاسـت الوزرا سـیاسي مرسـتیال په دغه کتنه کې وویل چې د اشـغال خاتمې لپاره د افغانسـتان ټولو قومونو په ځانګړې ډول د شـینوارو ولسـونو سـخته مبارزه وکړه، قربانۍ یې ورکړې او زیار یې ګاللی دی.
نوموړي وویل چې افغانسـتان ورځ په ورځ د پرمختګ په حال کې دی او په سـیاسي او اقتصادي برخو کې ګڼې لاسته راوړنې لري.
د ریاسـت الوزراء مرستیال زیاته کړه، چې نړۍ د اسلامي امارت په حقانیت پوه شـوې او دا ټولو ته روښانه ده، چې ولسونه د اسلامي نظام ملاتړ کوي له همدې امله غواړي، چې له اسـلامي امارت سره مثبتې اړیکې ولري.
د یادونې وړ ده، چې د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال په یاده کتنه کې قومي مشرانو او مخورو ته ډاډ ورکړ، چې د شـینوارو ولسـونو سـتونزې به د حل په موخه له اړوندو ادارو سره شریکې کړي.

## ارشاد، حج او اوقافو وزارت د تاشکند له دیني...

ښار کې د امام بخاري رحمه الله له مدرسې او ښوونیز مرکز، د کتاب نندارتون او کتابتون څخه د لیدنې ترڅنګ د دغې مدرسې له تدریسي بهیـر، د حضرت عثمان رضی الله عنه په عصر کې له لیکل شـوي قرآن کریم او مصحف له نندارتون او یاد ښـار له ګڼو دیني بنسـټونو څخه لیدنه وکړه.
سرچینې زیاته کړې، چې یاد پلاوي د تاشـکند ښـار د اسلام اباد په جامع جومات کې د تراویح لمونځ هم اداء کړ.
د یادونـې وړ ده، چـې د ارشـاد، حج او اوقافو وزارت سرپرسـت ازبکسـتان ته د سـفر په ترڅ کې د دغه هېواد له سـتر مفتي سره هم کتلي وو.

## پیام تسلیت معاون سیاسی ریاست الوزراء در پیوند...

ترافیکی و سرعت زیاد است.
ادارات مربوطه بـه منظور کاهش حادثات ترافیکـی و حفظ زندگی مردم اقدامات لازم و عاجل را روی دست بگیرند.
همچنان از رانندگان و شـرکت‌های ترانسـپورتی به جدیت می خواهیم که از احتیـاط کامل کار بگیرند و دیگر با زندگـی هموطنان بازی نکنند و در صورت تکرار با برخورد قانونی مواجه خواهند شد.
برای شـهدای حادثه اخیر بهشت برین و به خانواده‌های شان صبر جمیل و به مجروحین صحتمندی عاجل آرزو می کنم.

## کابل کې یوه چیکډم جوړولو چارې...

د ۴ میلیونه، ۲۷۸ زره ۲۸۳ افغانیو په لګښت پیل شوې دي.
د خبرپاڼې د مالوماتو له مخې یاد چکډم د ځمکې لاندې اوبو د پیاوړتیا، د باران اوبو راټولولو او د استوګنې کورونو د ویجاړېدو د مخنیوي په موخه د منځني کابل سیندیزې فرعي حوزې تر څارنې لاندې د قراردادي شرکت له لوري جوړېږي.
دا په داسې حال کې ده، چې دمګړۍ د هېواد په ګڼو ولسوالیو کې د چکډمنو جوړولو چارې روانې دي.

## د بغلان ترافیکو مدیریت څه باندې ۱۰۸ میلیونه...

او د دولت خزانې ته یې سپارلي دي.
نوموړي زیاته کړه، چې تېرکال د یاد مدیریت عواید یومیلیونه ۲۶۵ زره افغانۍ وو چې د تېرکال په پرتله سږکال د یاد مدیریت عواید څه باندې ۱۰۷ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښیي.
د یادونې وړ ده، چې نوموړي د پیسو د راټولولو په بهیر کې د شفافیت ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، موږ هڅه کوو چې په راتلونکي کال کې ډېر عواید راټول کړو.

## قرغزستان د افغانستان پر کانونو...

کیندنـې په بېلابېلو برخو کې افغان انجنیرانو تـه عملي او تخنیکي زده کړې هم ورکړي.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست هم، د هغوی د برنامو او خبرو له اورېدو وروسته ویلي چې اوسمهال په افغانستان کې سراسري امنیت تامین دی او د پانګونې لپاره ښه فرصتونه برابر دي.
هغـه، په هېواد کـې د ټولو بهرنیو پانګه والو چې د کانـي زېرمو په برخه کې پانګونه کوي؛ هرکلی کړی او ډاډ یې ورکړی چې هغوی کولی شي په ډاډه زړه او پوره روښتیا سره په دې برخه کې پانګونه وکړي.
دا پـه داسـې حـال کـې ده چـې د افغانسـتان اسـلامي امارت پـه بیا واکمنـۍ او د سراسـري امنیـت د شـتون پـه دلیـل، د هېـواد د بېلابېلو کانونـو په برخه کـې د کورنیو او بهرنیـو پانګه والو د پانګونـې لېوالتیا ډېره شوې ده.

## اوس د ټول مسلمان امت هیلې یوازې ...

څښـتن تعالـی همدې باتور ملت تـه په دریم ځـل د زمانې له یو بل سـتر ځواکمن لښکرنه دخلاصون او خپلواکۍ موقع ورکړه، اوله همـدې سره یوځل بیـا د امت د انحطاط او خـوارۍ همدې ناوړه مرحله کې دټولو دردمنو مسـلمانانو سـترګې د افغانانـو په لور را واوښـتې، جذبې یې راوپار یدلې او مـوږ سره یې د خواخوږۍ او اسـلامي ورور ګلوۍ احساسات را تازه شـول- همدا هغه څه دي چې دګرد افغان ولس مسؤلیت او مکلفیت څو برابره لازیاتوي- خو څرنګـه چې داوخت د دې هېواد او ملت قیادت د اسـلامی امارت د مشرانو پرغاړه دی نوښـکاره ده چې تر ټولو دروند پېټی د همدوی پراوږ وبار دی- په دې حسـاب اوس دوی مکلف دي چې سر بېره پـر خپلو دیندارو هېوادوالـو، د پاتې نور امت هیلـې هم ضایع نه بلکې هڅه وکړي چې د هغوی لاډېر باور، مرسـته او ملاتړ ترلاسه کړي- البته مشران به حتماً متوجه وي چې ان له خیرالقرون راهیسې ددې امت دعلـماؤ امامانو او څېړونکو ترمنځ د مذاهبو، مسـالکو او بېلابېلـو تعبیرونـو ځانګړې مفاهیم خامخا شـتون لري- له بلې خوا زموږ تاریخ پـردې واقعیت هم ګواه دی چې د امت ګردونامتو امامانو له ځینو فرعي مختلفو باورنو سره سره د اسـلامي اخوت پر تحکیم خورا زیات ټینګار کړی- په دې مانا چې فرعي مسـایلو کې د جلاجلا نظریاتو اختلاف بایـد هیڅکله دامت وروروګلوي ته کوم زیان ونه رسـوي- په دې اساس دلته زموږ مطلب دادی چې دامهال افغـان قیادت باید خامخا دغه ټول مـوارد په جدي ډول په نظر کې ونیسي، دامت د توحید اساسات او درښتینو مبارزو مؤمنانو ارمانونو ته لومړیتوب ورکړي او هیڅکله دغه شـان لوړ ارمانونه د څو افرادو له هغو ځاني سلیقو ځار نه کړي چې عموماً د خپل طبیعت له مخې ځینی کلتوري او سلیقوي مسایل هم پر ایمانیاتو ورګډ وي- ځکه په دې کې هیڅ شک نشـته چې دا ډول تګلاره خپلول نه یوازې داچې په کور دننه پرېمانه ستونزې جوړوي، د ټول امت اسلامپالو کې هم د افغان قیادت اعتبار ته ناوړه صدمه رسوي- په داسې حال کې چې اوس پـه هر صورت د امت په لرو برو پرګنـو کې ترډېره حده یوڅه ملګرتیا او خواخوږي ترلاسـه شـوې هم ده- بناپر دې ښه خبره دا ده چې مشران د دغسـې موضوعاتو پـه اړه لومړي ګام کې له ځینو مشرانو علماؤ اسـتادانو او اسـلامپالو څېړونکـو سره لږ تر لږه یوه مشـوره خو وکړي- ترڅو په نتیجه کې د هغوی له کره سپارښتنو یوه معقوله او مناسـبه تګلاره وټاکله شي- په دې توګه به اسلامی امارت وکولی شي د اسـلامي نړۍ زیاترو هېوادونو کې یو شـمېر افراد او تنظیمونـه د ځان ملګري او دهغوی په واسـطه لـه حکومتونو سره اړیکې ورغوي- ښـایي له دې لارې موږان د لویدیځوالو د باو هم راکم کړی شـو او هغوی و ګوري چې افغانان څه نا څه نور ملګري هم لري- مطلب له یوې خوابه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د یو شـمېر با احساسـه مؤمنانو هیلې نه وي ضایع شـوې اوله بلې خوا به مو د اغیارو پروړاندې له دغه نرم ځواکه یوڅه استفاده کړې وي- نوراځئ په همدې لاره پرمخ ولاړ شو.

Shariat Daily

# Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦ /۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Tuesday 19 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 408

سرپرست وزارت معادن وپترولیم:

## برای تطبیق سریع پروژه های انکشاف ملی متعهد هستیم

سرپرست وزارت معادن و پترولیم در دیداربا رییس شرکت انکشاف ملی متعهد شد که آن وزارت برای تطبیق سریع پروژه های انکشاف ملی آماده همکاری است.
دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم با نشر این خبر گفته است: شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست آن وزارت با عبدالرحمن عطاش رییس شرکت انکشاف ملی



دیدارکاری را انجام داد.
دراین ملاقات رییس اداره انکشاف ملی در رابطه به تطبیق وکار های انجام شده پروژه های مختلف منجمله کانال قوش تیپه معلومات داد ودر قسمت استخراج بهتر معادن زغال سنگ بلخاب که جهت تمویل کانال قوش تیپه تخصیص یافته است دیدگاه و پیشنهاد های خود را مطرح کرد. ص۵

## ۱۶ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته مسترد شول



د ستندرد ملي اداري ایران ته د ۱۶ ټانکره بې کیفیته تېلو د بېرته مسترد کولو خبر ورکړی دی.
یادې ادارې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د فراه د ۷۸(شیخ ابو نصر فراهي) بندر له لارې یې ۱۶ ټانکره بې کیفیته تېل (ډیزل او پټرول) چې د دې ادارې له ستندردونو سره یې... ۵مخ

## افزایش چهل وسه درصدی عاید اداره های عایداتی بدخشان

مسوولان، ازافزایش چهل وسه درصدی عاید اداره های عایداتی بدخشان خبردادند.
به اساس ارقام ارائه شده، درجریان امسال، بیست وهشت اداره ی عاید زا دربدخشان، چهارصد وشصت وپنج ملیون افغانی عاید گرد آوری کرده است.
الحاج مولوی محمد ایوب « خالد » والی بدخشان در نشستی زیرنام« گزارش عوایدی ادارات گفت که با توجه به پلان های ... ص۵



## دایکندي کې ۲ دیني مدرسې پرانیستل شوې




د دایکنډي د پوهنې ریاست مسوولینو د یاد ولایت په مرکز کې د ۲ دیني مدرسو د پرانیستل کېدو خبر ورکړی دی.
د دایکنډي د پوهنې رییس قاري عنایت الله سهار د یادو مدرسو د پرانیستلو په مراسمو ... ۵مخ

## د اتحاد جریدې عواید ۳ برابره زیات شوي

د بغلان د اتحاد جریدې د اعلاناتو عواید د تېرکال په پرتله درې برابره زیات شوي دي.
د بغلان د اتحاد جریدې مدیرمسوول سید عبدالله سادات د باختر آژانس خبریال ته ویلي چې د روان کال په بهیر کې د اتحاد جریدې د اعلاناتو له درکه




۱ میلیونه ۷٦ زره ۵۵۰ افغانۍ راټولې او د دولت خزانې ته یې سپارلې دي.
دا په داسې حال کې ده چې د تېرکال عواید څه باندې ۳۵۰ زره افغانۍ و چې د سږ کال عواید د تېر کال په پرتله ۳ برابره زیاتوالی ښیي. ۵مخ


## آغاز کار قیرریزی جاده‌ی درمرکز نیمروز



کارقیرریزی دوهزار متر جاده درنیمروز دیروزآغازشد.
انتظارمی رود با قیرریزی این جاده، دررفت وآمد ، وسایط درساحه ی پل ابریشم تا سرک حلقه یی گمرک، سهولت ایجاد شود.
مولوی جان‌محمد... ص۵

## افزایش میزان بازدید ازموزیم غور

موزیم غور، دراین اواخر، صدها بازدید کننده داشته است.
مسوولان می گویند که روند بازدید ازاین موزیم، روبه افزایش است.
الحاج مولوی عبدالحی زعیم رییس اطلاعات ... ص۵



## کارساخت بخشی ازکانال قوش تیپه درجوزجان آغازشد

کانال قوش تیپه، بزرگترین پروژه ی توسعه یی برای تامین آب های زراعتی وتامین انرژی درشمال افغانستان محسوب می شود.
با ساخت این کانال، قرار است آب پنج صدو پنجاه هزارهکتار کشتزار دهقانان درولایت های بلخ، جوزجان وفاریاب ... ص۵



## په کابل کې یو شمېر وسلې کشف او ترلاسه شوې



د ملي دفاع وزارت په پلازمېنه کابل ښار کې د ۳۱۳ مرکزي قول اردو د منسوبینو له لوري د یو شمېر وسلو د کشف او ترلاسه کولو خبر ورکړی دی.
یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د ۳۱۳ مرکزي قول اردو د کشف او استخباراتو زړورو ... ۵مخ

# رویدادهای خارجی

## روسیه کې د ټاکنو پای؛ پوتین تر ډېره حده ۸۷ سلنه رایې خپلې کړې




تاس خبري اژانس د روسیې د ټاکنو کمیسیون د معلوماتو پر اساس خبر ورکړی، چې د ۹۵،۸ سلنه رایو تر شمېرلو وروسته د دغه هېواد ولسمشریزو ټاکنو کې، چې له تېرې جمعې ورځې څخه پیل شوې وې او پرون پای ته ورسېدې، د ۸۷،۳۲ سلنه رایو په ترلاسه کولو سره اوسنی ولسمشر ویلادیمیر پوتین تر خپلو سیالانو په غوخ اکثریت سره مخکې دی.
اژانس زیاتوي، چې شمېرل شوېو رایو کې د کمونست ګوند نوماند نیکولای خریتونوف د ۴.۲۸ سلنه رایو په تر لاسه کولو سره دویم، د خلکو د نوي ګوند نوماند ولادیسلاو داوانکوف د ۳.۸۵ سلنه رایو سره دریم او د لیبرال دیموکرات ګوند نوماند لیونید سلوتسکي د ۳،۱۵ سلنه رایو سره څلورم ځای لري.
دغو پایلو ته په کتو ښکاري ، چې ویلادیمیر پوتین له وړاندینو سره سم ټاکنې په غوخ اکثریت سره ګټلې دي.

## یونیسف: اسرائیلو په غزه کې ۱۳ زره ماشومان وژلي

د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندق په خپل تازه راپور کې ویلي، چې صهیونست ځواکونو د تېر کال د اوکتوبر له اوومې نېټې راهیسې ۱۳ زره فلسطیني ماشومان وژلي، زرګونه یې ټپیان کړي او سلګونه زره نور یې له زده کړو بې برخې کړي او اوس مهال د سختې لوږې له امله د مرګ له ګواښ سره مخ دي.
یونیسف ویلي، چې د غزې ماشومان د ډېرې کمزورۍ له امله ان د ژړا کولو انرژي هم نه لري.
د راپورونو له مخې غزه کې د جګړې له امله زرګونه نور ماشومان یا خو بې سرپرسته شوي او مور او پلار یې په جګړه کې له لاسه ورکړي او یا خو بې کوره شوي دي.
د دې سربېره د غزې ماشومان له نورو ګڼو ستونزو سره هم مخ دي، چې اسلامي او نوره نړۍ یې په مرسته کولو کې پاتې راغلي دي.



## شمالي کوریا درې نور بالستیک توغندي توغولي



د جاپان کیوډو خبري اژانس د دغه هېواد دفاع وزارت له ادرسه خبر ورکړی، چې شمالي کوریا پرون سهار وختي درې بالستیک توغندي توغولي، چې د ۵۰ کیلو متره په لوړوالي یې ۳۵۰ کیلو متره واټن وهلی دی.
جاپاني چارواکو ویلي، چې دغه توغندي د کوریا ټاپووزمې له ختیځ ساحل څخه توغول شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن جنوبي کوریا ته سفر کړی دی.
شمالي کوریا وروسته تر هغې خپل پوځي تحرکات زیات کړي، چې امریکا او سیمه کې ځینو متحدینو یې لکه جاپان او جنوبي کوریا پر ځمکه او سمندر کې پوځي تمرینات پر لاره واچول او ګډ پوځي تمرینات یې ترسره کړل.
ورته وخت کې د شمالي کوریا پوځ د کال تر ټولو لوی نظامي تمرینات هم پر لاره اچولي دي، چې خپله مشر کېم جونګ اون یې رهبري کوي.